د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپيڅلي نامه

Logar

# لوګر

مياشتنی خپرونه

دلوګر اطلاعاتو اوفرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنيزه، ديني او فرهنګي خپرونه

يکشنبه د۱۳۹۴ کال دتلې مياشتې شپږ وېشتمه د ۲۰۱۵ عيسوي کال داوکتوبر اتلسمه (۱) پرله پسې ګڼه (۷۳) لومړی کال پنځمه ګڼه


## غوره اخلاق

ابو هريره رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: د ايمان له پلوه کامل مؤمن هغه دی چې غوره اخلاق ولري او په تاسو کې تر ټولو غوره هغه څوک دی، چې له خپلو ميرمنو سره ښه چلند کوي .

(رواه الترمضي)

## په لوګرکې د شهيد اونۍ ولمانځل شوه

هغه غونډه چې دلوګر ښاروالۍ په تالار کې؛ دلوګرولایت مقام، کاراوټولنيزو چاروشهيدانو او معلولينواوداطلاعاتواوکلتور رياستونو له خوا دوړې په ۲۳ مه جوړه شوی وه. لوګر والي محمد حليم فدايي دکاراو ټولنيزو شهيدانواومعلولينو وزارت مرستيال واصل نورمومند ، د کرکټ بورډ پخوانی مشر او سلاکار وزير شهزاده مسعود ،جنرال اسلم مسعود ، داطلاعاتواوفرهنګ رئيس محمد شفيق پوپل، دلوګرد دولتي ادارو رئيسانو ، د لوګرد شپږونې ولسوالۍ ولسوالانو ، د امنيتي ځواکونو مشرانو ، دولايتي شوار رئيس اوغړويې، دملکي اونظامي ادارومسؤلينو ، قومي مشرانو ، جهادي قومندانانو ، ځوانانو او ښځينه وو ګډون کړی ؤ. دغونډې په پيل کې د شهيدانو ارواحو ته دقران عظيم الشان ختم وشو اودوی ته دمغفرت لاسونه پورته شول.

پاتې په دويم مخ کې





## سرليکنه

## دښوونکي د نړيوالې ورځې په وياړ

دښوونکي نړيواله ورځ هرکال په افغانستان کې د تلې دمياشتې په ۱۳ مه نيټه دځانګړو مراسمو په ترڅ کې لمانځل کيږي او ددې وياړلې ورځ په درناوي ټولوښوونکوته دزړه له کومې مبارکي وايوو.

ښوونکی هغه څوک ده، چې په خپل زيار او زحمت زمونږ او لادونه دزړه په وينو ؛روزي، پوهه ورکوي، علم ورزده کوي ښې لارې او چارې ورته ښايې. ښوونکی دانسانيت دجوړښت او تمدن ځلانده ډيوه ده. نن داهر څه چې مونږ په نړۍ کې وينو دښوونکي دزيار او زحمت پايله ده، چې دښوونکی له برکته څرګنديږي. دمور او پلار څخه وروسته؛ ښوونکی په ټولنه کې د درناوی په دويم مقام کې ځای لري.

ښوونکی ددې ترڅنګ چې دومره لوړمقام او منزلت لري، نو حضرت محمد(ص) هم په خپل مبارکه خوله وويلي دي، چې زه لوی خدای (ج) دبشريت لپاره ښوونکی استولی يم. له دې څخه څرګنده شوه، چې زده کوونکي، ټولنه او ولس بايد دښوونکی درناوی او احترام ولري.

په افغانستان کې چې داڅولسيزې جنګونه ؤ، ښوونکوهم زياتې سربښندنې او قرباني له ځانه پريښې دي. ددې سربښندنو اوقربانيو په وياړدولت بايد کومې ژمنې او وعدې چې دښوونکو سره کړې دي، هغه بابد پوره کړي. دافغانستان ولسمشر ډاکټرمحمد اشرف غني، کله چې تيرکال واک ته ورسيد ، هيوادوالو سره دژمنو ترسره کولو لومړنۍ ژمنه په شپږو مياشتو کې دهيواد ټولو ښوونکو ته د سرپناه او سيدو يوه نمره ځمکه دورکولو وعده وشوه، خومتاسفانه بايد وويل شي، چې دلوګرښوونکو لپاره داوسيدو نومرې نه دی ويشل شوي او خبره زړه په زړه ده. نه دښوونکو معاشونه لوړشوي اونه هم د دوی لپاره دهستوګنې ځای برابر شوي.

دولت اودپوهنې چارو مسؤلين؛ دښوونکو ورځ هرکال په شاندارواوپرتمينوغونډو لمانځي اودښوونکو په مقام اومنزلت څوټکې خبرې کوي. زده کوونکي دښوونکوپرغاړه څوګردي ګلان اچوي اويا دزده کوونکوله لورې په تحفو نازول کيږي، خو بايد وويل شي، چې داپه څوټکووينااو اودښوونکوپرغاړه ګلان اچول د دوی پر منزلت بسنه نه کوي، په ډيرکم بايد دوی هرکال وهڅول شي، په ورځني معاش کې يې زياتوالې راشي، داوسيدو کورونه ورته برابرشي اوهمدارنګه دوی لپاره دتګ اوراتګ وسيله دولت ورته برابر کړي. ځکه له يوې خوا به د ښوونې اوروزنې دپياوړتيا اساسي سيستم کې بدلون راشي اوله بل پلوه ټولنه به هم دوی ته په درنه سترګه وګوري. راځې، چې دښوونکو نړيوالې ورځې سره سم دسولې راوستوغږ اوچت کړو ، سوله دهيوادلپاره اساسي رکن وشميرو ، که چيرته سوله نه وي، نو دښوونکو په درسي چاروکې هم خنډونه رامنځته کيږي. نو ښوونکوته هم لازم ګڼو ، ترڅو په خپلو ټولګيو کې زده کوونکو ته د سولې په اړه معلومات ورکړي او زده کوونکي؛ د سولې پيغام په خپلو ټولنو کې هغه چاته ورسوي، چې نن يې د سولې پروړاندې ستونزې پيدا کړي او هم دوی له دې سپيڅلې کلمې سره آشنا کړي.

پاتې په څلورم مخ کې

## افسران قوماندانی امنیه ولایت لوگربه پاس خدمات شایسته شان تقدیرشدند

چند تن از افسران ساتنمنان وسربازان قوماندانی امنیه ولایت لوگر که درعرصه تامین امنیت باشندگان لوگراز خود شجاعت ودلیری نشان داده بودند ، طبق هدایت مقام ریاست جمهوری با تفویض مدال ها و تقدیرنامه ها مورد تقدیرقرار گرفتند.

محفل که بدین مناسبت در مقرقوماندانی امنیه ولایت لوگربا اشتراک معاون قوماندانی عمومی امور پولیس ومسئولین قوماندانی امنیه ولایت لوگربه تاریخ 24 سنبله تدویریافته بود نخست پاسوال دادالله معصومی معاون قوماندانی عمومی امورپولیس وزارت اموداخله صحبت نموده گفت: طبق هدایت مقام ریاست جمهوری افسران ومسئولین قوماندانی امنیه ولایت لوگربه مناسبت نودوششمین سالروز استقلال واستردادکشور وبه پاس خدمات شایسته وشجاعت شان که در جریان عملیات ها از خود نشان داده ومخالفین دولت راسرکوب کرده اند تقدیرشدند.

سپس مل پاسوال محمدداود احمدی قوماندان امنیه ولایت لوگرضمن اظهار امتنان از این احساس مقام ریاست جمهوری که منسوبین دلیرقوماندانی امنیه این ولایت را مورد تقدیرقرار دادند علاوه کرد که تمام منسوبین این قوماندانی شب وروز سعی مینمایند تا امنیت مردم لوگر را تامین نمایند.

آقای احمدی علاوه نمود که یگانه پیروزی منسوبین قوماندانی امنیه لوگرتعلیم وتربیه دوامدار میباشد.

قابل ذکر است که در این محفل پنج تن از افسران با تفویض مدال های شجاعت ومدال های افتخاری پولیس و34 تن دیگر با اهدای تقدیرنامه، موردتقدیرقرارگرفتند.

باختر

## سه صدوشصت جلدکتاب، به کتابخانه عامه ولایت لوگرمساعدت شد

به تاریخ 31 سنبله موسسه توانا به کتابخانه عامه ریاست اطلاعات وفرهنگ ولایت لوگر سه صدوشصت جلد کتب مختلف النوع را مساعدت نمود.

عبدالاحمد فیضی مدیر کتابخانه عامه ریاست اطلاعات وفرهنگ ولایت لوگر حین تسلیمی کتب به خبرنگار آژانس باختر گفت:موسسه توانا یک باردیگر به دوام کمک های قبلی اش 360 جلد کتب مختلف النوع را که شامل کتب دینی،فرهنگی،ساینسی،تاریخی وریاضیات میباشد به کتابخانه عامه لوگر جهت غنامندی این کتابخانه مساعدت نمود ،آقای فیضی میگوید موسسه توانا از هفت سال بدینسو با کتابخانه عامه ریاست اطلاعات وفرهنگ لوگر بیش از هزار جلد کتب مختلف النوع ونیز الماری های کتب را کمک کرده که این کتب در حل مشکلات بیشتر مطالعه کننده گان نقش مهم و بسزای را ایفا نموده است منبع علاوه کرد که با افتتاح تعمیر جدید کتابخانه عامه مرکز تعداد شایقین مطالعه در حال افزایش بوده وروزانه 30 الی 40 تن دوستداران کتاب بخاطر مطالعه به این کتابخانه مراجعه میکنند.

محمد فیاض ستانکزی معاون ساحوی موسسه توانا گفت آنان نه تنها با کتابخانه عامه ریاست اطلاعات وفرهنگ در بخش کتب کمک کرده بلکه با کتابخانه های شخصی در شهر پل علم نیزمساعدت نموده اند ، وی وعده سپرد که در آینده نیز غرض غنامندی کتابخانه ریاست اطلاعات وفرهنگ از هیچگونه همکاری دریغ نمی ورزند. قابل ذکر است که کتابخانه عامه ریاست اطلاعات وفرهنگ ولایت لوگر در حال حاضردارای بیش از یازده هزار جلد کتب مختلف النوع میباشد که اکثرمراجعین کتابخانه محصلین وشاگردان مکاتب میباشد.

باختر



دژوندودانۍ؛ په دروا غوولاړه ده، په هردرواغ باندې اعتراف کول داسې ده، لکه چې ددغې ودانۍ څخه يوه خښته وباسې.